د افغانستان اسلامي امارت

وزارت اطلاعات و فرهنګ

د افغانستان ملي راډيو ټلويزيون لوی رياست




د مستند له منځه:

په ترموز کې چای خلاص شو؛ ډاکټر ورښمين خپل زوی ته مخ کړ:

- هلکه چای راتازه کړه.

د مېلمنو ورپام شو؛ ټولو پر خپلو پيالو لاسونه کېښودل؛ يوه يې په لوړ غږ وويل:

-ډاکټر صيب! بيخي بس دی، ناوخته ده؛ سبا ته هم کار لرې او موږ به هم په خپله مخه ځو.

نور به واړوو.

ډاکټر ورښمين څه ونه ويل؛ زوی يې بېرته کېناست.

شاوخوا دوه ساعته وروسته د کور د خونو ګروپونه مړه شوي وو او د مېلمنو په ګډون د کورنۍ ټول غړي په خواږه خوب ويده وو. د چاودنې غږ د خونې ښيښې و شرنګولې.

ډاکټر ورښمين د خوب په ځای کې راکېناست؛ سترګې يې ومونښلې او له خولې يې د ( يا الله خير ) کلمه ووتله.

د موبايل صفحه يې رڼا کړه؛ يوې ته پنځلس دقيقې پاتې وې.

په کراره پاڅېد او د کوټې دروازه يې خلاصه کړه.

پر بام يې لاس په ماشه دريشي کړو عسکرو سترګې ولږېدې.

بېرته د کوټې بر سر ته لاړ، مېلمانه يې وښورول او په وارخطا غږ يې ورته وويل:

-ملګرو پر کور مې چاپه ده.

يو مېلمه ځای په ځای ودرېد، خو ډاکټر ورښمين ورته د بېرته کېناستو اشاره وکړه او په ټيټ اواز يې ورته وويل:

- صبر زه وروځم شايد اشتباه يې کړې وي.

دکوټې دروازه يې خلاصه کړه؛ په بوټونو پسې ور کړوپ شو. د دهلېز دروازه په لغته ووهل شوه، پړ مخې وغورځېد؛ د کوټې کوچنی دهلېز دوه درې عسکرو ونيو.

ډاکټر ورښمين د پورته کېدو هڅه وکړه، خود ټوپک د کنداغ ګزار بې هوښه کړ.





يوه امريکايي عسکر د خونې دروازې ته ډډه ووهله او د ټوپک له پرلپسې ډزو سره په کور کې د ښځو او ماشومانو غوغا ګډه شوه.


شېبه وروسته دوه عسکرو د ډاکټر ورښمين په وينو لړلی جسد له دهلېز څخه حوېلۍ ته راوويست.

يو عسکر لا هم د مېلمنو د خونې دروازې ته ګوته په ماشه ولاړ و.

پر بام ولاړ عسکر په انګليسي څه وويل؛ دروازې ته ولاړ عسکر حوېلۍ ته منډه کړه.

له بامه لاسي بم د مېلمنو کوټې ته ور وار شو.

شېبه وروسته له دروند غږ سره د خونې ښيښې ماتې شوې او له کړکيو تور لوګي وتل.



عسکر بیرته له حوېلۍ د مېلمنو خونې ته ورمنډه کړه.

دوه درې نور عسکر هم ورپسې ورغلل.

کوټه له لوګي ډکه وه او مېلمانه په وینو لمبېدلي او ټپي حالت کې د دېوال په خوا کې پراته وو.

عسکر ور وړاندې شول د دوه مېلمنو پر سرونو څلور پنځه ټکونه وشول او شېبه وروسته عسکر له خونې بېرته را ووتل.

شاوخوا پنځلس دقیقې وروسته ګڼ لاسټړلي سپین ږیري، ځوانان او ماشومان د ډاکټر ورښمین د کور په ور ننوتل، تر مخ او شاه یې امریکایي لاس په ماشه عسکر روان وو.

لاسټړلي کلیوال د ډاکټر ورښمین په لیدو سلګیو واخیستل خو له ویرې او وحشته دا سلګۍ له ستوني په زغرده نه راوتې.

کتار عسکر د لاسټړلو کلیوالو ترمخ ودرېدل؛ په خپلو کې سره وغږېدل او ترجمان خلکو ته مخ ور واړاوه؛ ویې ویل:

- طالبان چېرته دي؟

لاسټړلو کسانو په خپلو کې سترګې سره واړولې؛ یو سپین ږیري وویل:

-وروره اشتباه مو کړې دلته طالبان نشته دا کس چې تاسې ویشتلی د کلي ډاکټر دی او هاغه نور دوه مېلمانه دي.

ترجمان عسکر ته وکړېده؛ د عسکر تندی تروش شو او په انګلیسي ژبه یې تونده لهجه وکاروله.

ترجمان سپین ږیري ته مخ ور واړاوه، ویې ویل:

- دی وايي چې سپیناوي ته ضرورت نشته دا کلی ټول له طالبانو ډک دی. سپین ږیري خبرو ته خوله جوړوله خو امریکایي عسکر په شونډه ګوته کېښوده او د خبرو نه کولو اشاره یې ورته وکړه.

سپین ږیري سر ښکته واچاوه.

د لاس تړلو خلکو له سترګو اوښکې روانې وې او د ډاکټر ورښمین په وینو لړلي جسد ته یې کتل.

امریکایي عسکر سره ټول شول، څه یې سره وویل او په کتار له حوېلۍ ووتل.

په څو شېبو کې د کور حوېلۍ چغو او ژړاوو په سر واخیسته.

د ډاکټر ورښمین د جسد شاوخوا لاسټړلو کسانو ونیوله.

د کلا په دروازه یو سپین ږیری سړی په منډه راورسېده، د خلکو په منځ کې یې لاره وکړه او د غاړې دستمال یې په دواړو لاسو مخ ته ونیو، ځای پر ځای کېناست او په چغو چغو یې وژړل.

ترځنګ ولاړ ځوان یې په ژړغوني غږ په غوږ کې څه وویل.

سپین ږیری پاڅېد او د کوټې په خوا یې ورمنډه کړه.

شېبه وروسته ډله نور خلک هم خونې ته وردننه شول.

-سپین ږیري د مېلمنو جسدونو ته بې اختیاره ژړل.

د خلکو له ډلې یو یې نږدې ورغی او ورته ویې ویل:

- کاکا د الله رضا به وه؛ صبر ولره خدای (ج) خفه کېږي.

سپین ږیري سړي سترګې ور واړولې او په ژړغوني غږ یې ورته وویل:

حمید کاکا پوهېږم چې ډاکټر ورښمین مې زوی دی په شهادت یې ډېر درد نه راځي؛ خو دا دوه کسان مېلمانه دي اوس حیران یم چې کورنۍ به یې څنګه خبروم.

دا په پکتیکا ولایت کې پر یوه کلي د چاپې رېښتینې کیسه ده، چې د افغانستان ملي راډیو ټلویزیون پرې مستند فلم جوړ کړی دی.

د کتلو لپاره یې لاندې بارکوډ سکن کړئ او د مستندونو له یوې سترې لړۍ سره یوځای شئ.

که تاسې هم په خپلو سیمو کې د شل کلن اشغال پر مهال د بهرنیو یرغلګرو ځواکونو لخوا د ورته پېښو او یا هم داسې نور جنایتونو شاهدان یاست کولای شئ، چې د واټساپ له لارې یې له موږ سره شریکې کړئ، ترڅو موږ یې په مستند ډول ثبت او نشر ته یې لومړیتوب ورکړو.

۰۷۴۴۳۴۳۶۶۸

@RTADOCUMENTARY Android Iphone

ملي SPORT ملي